# د سولې، امنیت او سیاسي ګډون په اړه د افغانستان د ښځو سیاسي بیانیه

کال: ۱۳۹۶

# د سولې، امنیت او سیاسي ګډون په اړه د افغانستان د ښځو سیاسي بیانیه

۱۳۹۶

**پېژندپاڼه**

| | |
|---|---|
| د اثر نوم: | د سولې، امنیت او سیاسي ګډون په اړه د ښځو سیاسي بیانیه |
| خپروونکی: | د ښځو او ماشومانو د حقونو څېړنیز بنسټ |
| تمویل کوونکي: | هاینرش بل (HBS) بنسټ |
| د چاپ کال: | ۱۳۹۶ |
| چاپ شمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چاپ وار: | لومړی |
| اړیکو شمېره: | ۰۷۰۰۶۴۹۱۹۱ |
| ویبپاڼه: | www.wclrf.org.af |
| برېښنالیک: | wclrf@yahoo.com |
| پته: | ۴۳۲ نمبر کور، ده نو، دهبوري، پنځم سرک، کابل-افغانستان |

## مننه

دغـه رسـاله د هغـو کسـانو د هڅـو او زحمتونو پـه پایله کـې چمتو شـوې ده چې په ډېـره مینـه ورسـپارل شـوې دندې په سـمه توګـه او په خپل وخت ترسـره کـړې دي. د ښـځو او ماشـومانو د حقونـو څېړنیـز بنسـټ له هغـو ادارو څخه چې ورسـره یې د دې بیانیـې پـه تدویـن کې مرسـته کـړې ده، مننه کـوي. د هاینرش بل بنسـټ څخه ځانګـړې مننـه کـوي چـې د دې پروګرام مالـي ملاتړ یې کـړی. همدارنګه د سـولې عالـي شـورا، د ښـځو لـه حقونـو څخـه دفـاع کوونکـو نهادونـو، د محلونو پـه کچه مېرمنو، د سـولې په پروسـه کې د مېرمنو د ګډون زیاتوالي غوښـتونکې کمیټې غړو، او هغو اشـخاصو څخه مننه کوي چې په خبرو او بحثونو کې یې برخه اخېسـتې ده.

د دې ترځنـګ، لـه آغلـې سـمیرا حمیدي څخـه ډېره مننـه کوي چې د دغه سیاسـي بیانیـې په چمتـو کولو کـې یې همـکاری کړې ده.

پـه پـای کـې لـه ښـاغلي محمـد علـی فکـور او د ښـځو او ماشـومانو د حقونـو څېړونکـې بنسـټ لـه نـورو همکارانـو څخه هـم ډېره مننه کـوي چې د دې رسـالې پـه بشـپړولو کـې یـې لـه موږ سـره مرسـتې کـړې دي.

بـې لـه شـکه، د سـولې، امنیـت او سیاسـي ګـډون پـه اړه د ښـځو د سیاسـي بیانیې تدویـن، د ذکـر شـویو اشـخاصو له ملاتـړ او بـې دریغه هڅو څخـه پرته، پـه دومره غـوره توګـه نه شـو ترسـره کېدی.

**زرقا یفتلی، د ښځو او ماشومانو د حقونو د څېړنیز بنسټ رئیسه**

## د ښځو او ماشومانو د ښځو د څېړنيز بنسټ په اړه

د ښـځو او ماشـومانو د حقونو څېړنيز بنسـټ په افغانسـتان کې د ښـځو او ماشومانو د حقونـو د دفـاع لپـاره د عدالـت غوشـتنې پـه برخـه کـې يوه مخکښـه موسسـه ده. دا اداره پـه ۲۰۰۳م کال کـې لـه خپـل تاسـيس څخـه تـر اوسـه پورې، پـه دې هڅه کـې ده چـې د څېړنو، مسـتند سـازۍ، عدالت غوښـتنې او عامه پوهـاوي له لارې د ښـځو او ماشـومانو پـه پياوړتيـا کې مرسـته وکړي.

د دې ادارې موخـه پـه هېـواد کې د ښـځو او ماشـومانو لپـاره د ټولنيـز عدالت تحقق او د بشـري حقونو بنسـټيز کول دي. د دې ادارې اساسـي موخې په لاندې ډول دي:

**۱.** د ښځو او نجونو باندې د تاوتريخوالي پر وړاندې مبارزه کول.

**۲.** د تاوتريخوالي څخه ډکو چلندونو بدلولو ته کار کول.

**۳.** د ښځو او ماشومانو د پياوړتيا لپاره د ملاتړ غوښتنه کول.

**٤.** د ادارې د ملاتړ ترلاسـه کولو په موخه د سـيمه يزو مشـرانو پوهاوی او د هغوي ظرفيت لوړونه.

**۵.** د ښځو پياوړې کول او د هغوي اساسي حقونو په اړه ظرفيت لوړونه.

دا اداره د تاسـيس لـه مـودې څخـه تـر اوسـه پورې خپلـو ټاکلـو موخو ته د رسـيدو لپـاره تـر ۴۰ ډېـر پروګرامونه ترسـره کـړې دي.

د دې ادارې زياتره فعاليتونه په څېړنه او ظرفيت لوړونه باندې ټينګار کوي.

## هاینرش بُل بنسټ (HBS)

هاینـرش بُـل بنسـټ یـو المانـي بنسـټ دی او د شـین سیاسـي تحریـک یـوه برخه ده. دا بنسـټ د ولسـواکۍ او بشـري حقونـو د پیاوړتیـا او عدالـت تامیـن لپـاره کار کـوي او پـه بنسـټیز ډول، پـه جنسـیت ولاړې ولسـواکۍ یعنـې ټولنیز مسـاوات او د نارینـه و او ښـځینه و پـه مسـاوي حقونـو بانـدې ټینګار کـوي. هاینرش بُل بنسـټ د لږکیو(اقلیتونـو) قومـي او فرهنګـي حقونـو مسـاوات تـه ژمـن دی او د دې ترڅنګ، د تاوتریخوالـي ضـد او سـوله یـزو پالیسـیو تـه وده ورکـوي. هاینـرش بُل بنسـټ په افغانسـتان کـې خپـل فعالیتونـه پـه ۲۰۰۳ م کال کـې پیـل کـړې دي او اوس د دغه بنسـټ ټـول فعالیتونـه د ولسـواکۍ او د سـولې ټینګښـت او تامیـن پـه پروګرامونـو بانـدې تمرکـز کـوي. په افغانسـتان کې د دې بنسـټ د فعالیتونـو او همکارانـو په اړه د زیاتـو معلوماتـو لپـاره (www.boell.org.af) ویبپاڼـې تـه مراجعـه وکـړئ او یا (af@boell.org) تـه بریښـنالیک ولیـږئ.

## فهرست مطالب

سریزه ........................................................................................... ۱
د دې بیانیې د تدوین موخه ....................................................................... ۳
د بیانیې د تدوین تګلاره........................................................................... ۳
موندنې ........................................................................................... ۴
لومړۍ برخه: د سولې په بهیر کې د ښځو ګډون ............................................... ۴
دوهمه برخه: په امنیتي ادارو کې د ښځو شتون ............................................... ۷
دریمه برخه: د ښځو سیاسي ګډون ............................................................. ۹
پایله................................................................................................ ۱۱
وړاندیزونه ....................................................................................... ۱۳
۱- ملي یووالي حکومت ته وړاندیزونه ....................................................... ۱۳
۲- نړیوالو بنسټونو ته وړاندیزونه............................................................ ۱۵

## سریزه

د ښځو او ماشومانو د حقونو څېړنیز بنسټ په ۲۰۱۵م کال کې په افغانستان کې د سولې په بهیر[1] کې د مېرمنو د ګډون په اړه یوه مطالعه ترسره کړه. په دې مطالعه کې د سولې په بهیر کې د مېرمنو د ګډون پر وړاندې یو لړ خنډونه او په دې بهیر کې د ښځو د سیاسي ګډون مخه نیوونکې عوامل په ګوته او معرفي شوي دي. په دې مطالعه کې له دې ډول ستونزو څخه د وتلو او د سولې په بهیر کې د مېرمنو سیاسي ګډون د زیاتوالي په موخه حل لارې او وړاندیزونه دولت او اړوندو نړیوالو ادارو ته سپارل شوې دي. په دې اړه د ښځو او ماشومانو د حقونو څېړونکې ادارې په ۲۰۱۶م کال کې د سولې په بهیر کې د مېرمنو د ونډې په اړه یو لارښود چمتو کړ او د دغه لارښود د لاسته راوړنو پر بنسټ یې د سولې په بهیر کې د مېرمنو د ونډې زیاتولو لپاره مشخصې لارې تدوي کړې دي.[2] د دې فعالیتونو ترڅنګ، د ښځو او ماشومانو د حقونو څېړونکې ادارې (د سولې په بهیر کې د ښځو د ګډون غوښتنې کمیټه) د شلو مدني ټولنو په غړیتوب جوړه کړه، څو دغه کمیټه په ترسره شوې مطالعه او د ادارې په لارښود کې د مطرح شوو وړاندیزونو د تحقق غوښتنه وکړي. همدارنګه، د لارښود له چمتو کولو څخه وروسته، دغه اداره په دې وتوانیده چې د سولې، امنیت او ښځو د سیاسي ګډون په اړه د افغانستان د ښځو سیاسي بیانیه تدوین کړي چې موخه یې په دې برخه کې د ذکر شوو خنډونو څېړنه او هغوی ته د حل لارو په نښه کول دي.

د طالبانو رژیم له نسکوریدو څخه وروسته، په افغانستان کې د نوې دولت له رامنځته کېدو څخه وروسته، که څه هم په دولت دارۍ کې د ښځو سیاسي ګډون، د هېواد د سیاسي نظام د تشکیل او د افغانستان د نړیوالو همکارانو له

1 http://wclrf.org.af/womens-participation-in-peace-process/

2 http://wclrf.org.af/projects-2/research/2016-2/guideline-engendering-the-peace-process-through-the-meaningful-engagement-of-women/

لومړیتوبونـو څخـه وو، خـو پـه دې برخـه کې له یـوې نیمې لسـیزې څخـه ډېر کار کولـو څخه وروسـته هم په افغانسـتان کې د ښـځو سیاسـي ګـډون تلپاتې نـه دی. د ملـي وحـدت حکومـت په کابینه کې ښـځې شـتون لري، خو د جنسـیتي مسـاوات غـږ یـې ډېر نـه اوریـدل کېږي.

د افغانسـتان د اوسـني پارلمـان لـه ۲۵ سـلنې څخه ډېره برخـه مېرمنې تشـکیلوي، خـو د ښـځو د حقونـو پـه اړه د هغـوي غوښـتنو ته پـام نه کېـږي. په همدې اسـاس، لازمي ده چې د ښـځو د حقونو او غوښـتنو د مؤثر اسـتازیتوب لپاره دغه اسـتازي او هغـه نـور اسـتازي چې راتلونکـې پارلمان تـه لار مومي، باید لا غښـتلې شـي څو د هېـواد د نیـم نفوس فعال اسـتازیتوب وکړی شـي.

همدارنګـه پـه افغانسـتان کې د امنیتي وضعیت د خرابیدو، په سـیمه یـزو حکومتونو کې د ښـځو کمرنګه شـتون او پـه دندو کې د بوختو مېرمنو د ملاتـړ او خوندیتوب نه شـتون، هغـه څـه دي چې په سیاسـي بهیر کې یې د ښـځو په ګډون اغېـز کړی دی.

پـه امنیتي ادارو کې د ښـځو د شـتون پـه اړه د یـوې مطالعې په پایلو کـې څرګندېږي چـې د دې ادارو پـه کارکوونکـو کـې یواځې ۲ سـلنه یې ښـځې دي. د دې ترڅنګ، پـه دې ادارو کـې ښـځې، د رهبـرۍ او تصمیم نیونې پـه برخو کې نه ګمـارل کېږي. همدارنګـه، پـه دې ادارو کـې مېرمنـې له ډېرو سـتونزو لکـه تبعیـض، تاوتریخوالي او جنسـي ځورونـو سـره مـخ دي او د کاري چاپیریال هغه څه دي چـې د دوې ونډه یـې تر ټولو ټیټـې کچې تـه راوړې ده.[3]

د ښـځو او ماشـومانود حقونـو څېړنیـز بنسـټ د سـولې، امنیت او سیاسـي ګډون په اړه د افغانسـتان د ښـځو سیاسـي بیانیـې په تدوې سـره پـه دغه هېواد کې د ښـځو پر وړانـدې پراتـه خنډونـه په ښـه توګه څېړلـې دي او د یو لـړ اساسـي وړاندیزونو لړ یې د افغانسـتان حکومـت او اړونـدو نړیوالو همکارانو ته سـپارلي دي.

3 http://www.awn-af.net/index.php/cms/press_detail/986/12

## د دې بيانيي د تدوين موخه

دا بيانيــه د ښــځو سياســي ګــډون، پــه امنيتــي ادارو کې د هغــوي رول او د ســولې په بهيــر کــې د هغــوي د ګډون په اړه د افغانســتان د ښــځو نظريات، هيلې، اندېښــنې او وړانديزونــه ځرګنــدوي. د دې ترڅنــګ، دا بيانيه لاندې موخــې بيانوي:

- د هېواد سياســي مشــرانو او نړيوالو ادارو ته د ښــځو د وړانديزونو د رســولو لپاره هڅې او غوښــتنې
- د افغانســتان ښــځو ټولنيــز او سياســي موقــف پيــاوړي کول او دغــه موخې تــه د رســيدو لپــاره د ټولنــې د ټولــو برخو ترمنــځ همغږي.
- د هغــو ادارو ترمنــځ همغــږي او د اطلاعاتــو شــريکولو تــه زمينــه برابــرول چــې د ښــځو د حقونــو پــه برخــو کــې کار کوي.

## د بيانيي د تدوين تګلاره

د دې ســند د تدويــن لپــاره، پراخ کتابتوني مطالعات ترســره شــوي دي او هغه څېړنې چې پخوا د ښــځو د سياســي ګډون، د ســولې په بهير کې د ښــځو ونډې او په امنيتي ادارو کــې د هغــوي د رول پــه اړه ترســره شــوې، تــر څېړنــې لاندې نيول شــوې دي.

همدارنګــه، لــه نــورو چمتو شــوو اســنادو پــه ځانګــړې ډول د ســولې په بهيــر کې د ښــځو د ګــډون لارښــود څخــه هــم پــه دې بيانيــه کې ګټه اخيســتل شــوې ده.

پــه همــدې ترتيــب، لــه يو لــړ فعالــو ادارو ســره چــې د ښــځو د حقونو پــه برخو کې کار کــوي، د ســولې شــورا لــه مېرمنو او هغــو مېرمنو ســره چې په مختلفو ســيمو کې د ټولنــو مشــري پــه غــاړه لــري، خبــرې اتــرې شــوې دي. په دې ســند کــې منعکس شــوې نظريــات او موضوعــات په بشــپړ ډول د مطالعاتو لــه پايلو، لارښــود، د ډله يز تمرکــز بحثونــو او مرکــو څخــه عبــارت دي چې پــه دې برخه کې ترســره شــوې دي.

# موندنی

## لومړۍ برخه: د سولې په بهیر کې د ښځو ګډون

د ښـځو او ماشـومانو د حقونـو تحقیقاتـي اداره د هغـو ادارو لـه ډلې څخـه ده چې د ظرفیت، ورتیا او مسـاوات پر بنسـټ د سـولې په بهیر کې د ښـځو د ګډون زیاتوالي پـه برخـه کـې کار کـوي. دا اداره د عدالت غوښـتنې کمیټې په همکارۍ د سـولې په بهیـر کـې د ښـځو د ګـډون د زیاتوالـي لپـاره په دوامـداره توګه د سـولې پـه بهیر کې د ښـځو د ګـډون اړونـد جریاناتـو نظارت کړی دی او د سـولې عالي شـورا د رهبرۍ او د سـولې ولایتـي کمیټـو پـه کچـه کې یې د ښـځو په ګټـه د بدلونونو غوښـتنه کړې ده. د سـولې پـه بهیـر کـې د ښـځو کـم رنګـه شـتون، او پـه دې اړه د هغـوي رول ته اهمیـت نـه ورکول، د عدالت غوښـتنې کمیټې په شـمول د ښـځو د حقونـو د فعالانو لـه جـدي اندېښـنو څخه وو. دغـه اداره د سـولې عالي شـورا د غړو پـه ترکیب کې د وروسـتیو بدلونونـو هرکلـی کوي. د یادونې وړ ده چې اوسـمهال چـې کومې مېرمنې د دغـه شـورا د غـړو پـه ترکیـب شـاملې شـوې، د هغـه نوملړ څخـه دي چـې د دغه ادارې له خوا چمتو شـوی او د سـولې عالي شـورا سـره شـریک شـوی و.

د دې ترڅنـګ، یـوه مېرمـن د مرسـتیالې او څلـور نورې مېرمنې د شـوار پـه اجرائیه کمیټـو کـې چـې د تصمیـم تـر ټولـو لـوړې مرجعـې دي، شـاملې شـوې دي، چې دا دېـر هیلـه بخښـونکې فعالیتونـه دي. خـو اوس هـم د سـولې په بهیر کې د ښـځو شـتون پـه برخـو کـې خنډونـه شـتون لـري کـوم چـې ددې بیانیـې د چمتـو کولـو پرمهـال پېژندل شـوې دي.

## ۱. سیاسي او دوه مخې چلند

د سولې عالي شورا یو تعداد ښځې چې د مختلفو سیاسي څېرو له لورې معرفي وي، له دوه مخې چلند سره مخ کېږي. د دې شورا په ترکیب کې په عمده ډول د سیاسي ډلو او قبیلو مشران نارینه شتون لري چې یوه برخه یې د طالبانو د ډلې غړي وو او د نارینه و او ښځینه و د حقوقو په مساوات باندې باور نه لري چې دا د دې باعث شوی چې د ښځو شتون او د هغوي د غړونو اغېز خورا کم کړي. د سولې عالي شورا په جوړښت کې د ښځو ډېر لږ شتون، په داسې حال کې چې ځینې یې د مدني ټولنو او ځینې نورې یې د سیاسي ډلو له لورې معرفي شوې دي، په خپلو منځونو کې لازمه همغږي نه لري او په همدې سبب د شورا رهبری په زیاتره مواردو کې، د ښځو نظریات او غوښتنې جدي نه دي نیولې او هغوي ته یې پاملرنه نه ده کړې، چې دې خنډ د غړو ترمنځ د همکارۍ روحیه کمزورې کړې ده او له بل پلوه، د شورا د کار په کیفیت باندې یې ناوړه اغېزه کړې ده.

## ۲. د جنسیتي تبعیض شتون

له هیچا پټه نه ده چې افغانستان یو عنعنوي هېواد دی او د ښځو پر وړاندې له سپکاوي ډک نظرونه په ټولو برخو کې شتون لري چې د سولې عالي شورا هم له دې امر څخه مستثنا نه ده.

د دې بیانیې موندنې په ډاګه کوي چې د سولې عالي شورا د نارینه غړو له تبیض څخه ډک لیدلورې شتون لري او هغوي جنګ او سولې ته نارینه تعریفونه لري چې له امله یې ښځې او د هغوي نظریات له پامه غورځول کېږي. دا د دې باعث کېږي چې د سولې په بهیر کې د ښځو رول اضافي او غیر ضروري بلل کېږي.

## ۳. په بشپړ ډول د شورا د ستراتیژۍ نه تطبیق

په داسې حال کې چې د سولې عالي شورا د ستراتیژۍ له مخې په مرکزي او د سولې ولايتي کمیټو په جوړښت کې د ۳۰ سلنه ښځو په شاملولو ټینګار شوی دی، خو د اوسنیو بدلونونو سربېره هم دغه اصل نه دی پلي شوی. د دې ټولو هڅو او غوښتنو سره هم د سولې عالي شورا په ترکیب کې د ښځو ونډه ۲۱ سلنه ده او د سولې په ولايتي کمیټو کې هم د ښځو مشخصه فیصدي شتون نه لري. د دې ترڅنګ، د ملي یووالي حکومت، په ځانګړې ډول د بهرنیو چارو وزارت او د سولې عالي شورا د ملي عمل پلان د ۱۳۲۵ شمېره قطعنامې په تطبیق کې نسبتاً ناکام دي. د ښځو د عمل ملي پلان یو شمېر ارکانو لکه (ګډون، خوندیتوب، له تاوتریخوالي خوندیتوب او پراختیا) څخه عبارت دي، چې دا ارکان په ملکي خدماتو کې د ښځو د ګډون پیاوړتیا، عدالت ته د ښځو د لاسرسي زیاتوالي، په امنیتي ادارو کې د ښځو د ونډې پیاوړې کولو او د ښځو د اقتصادي خوندیتوب زیاتوالي په موخه مطرح شوي دي چې اوسني خنډونه د دې څرګندوی دي چې دا پلان نه عملي کېږي.

## ٤. کمزوری ګډون

د ډله یزو بحثونو ګډون کوونکې په دې باور دي چې اوس هم ښځې په دې شورا کې د تصمیم نیونې ځواک نه لري او هسې نمایشي رول لري. د دې شورا په اجرائیه کمیټه کې زیاتره پریکړې د نارینه و لخوا ترسره کېږي او د دې شورا په ښځینه غړو باندې تحمیلېږي. د دې ترڅنګ، د مرکو له پایلو څخه معلومېږي چې د سولې عالي شورا ښځینه غړې، د افغانستان د سولې بهیر په اړه له ترتیب شوو غونډو څخه بې خبره وې. دوې له دې غونډو هېڅ خبر نه درلود او نه هم دې غونډو ته بلل شوې وې چې دا وضعیت د دې څرګندوونکی دی چې د سولې په بهیر کې د ښځو ګډون ډېر کمزوری دی.

### ۵. په تصمیم نیونه کې نظر اختلاف

د شـورا د څـو ګونـدي ترکیب لـه امله، غـړي يې د اساسـي موضوعاتو لکه شـخړو، سـولې او د سـولې پـه بهيـر کـې د ښـځو د معنـی لرونکـې ګډون پـه اړه پـه تصمیم نیونـه کـې مختلـف نظرونـه لري چـې دا پـه تصمیم نیونـه او شـورا د غـړو د نظر په یووالـي بانـدې منفـي اغېز لـري. د بېلګې په ډول، د سـولې عالي شـورا سـتراتیژي پـه واضـح ډول د مېرمنو د مشـورتي بـورد په نامه د یوه بـورډ د جوړولو پـه اړه یادونه کـړې ده چـې لـه شـورا څخه بهـر هم مېرمنـې په کـې ګډون ولـري، خو لـه موندنو څرګندېـږي چـې د دې شـورا د غـړو ترمنـځ د نظر اختـلاف د دې باعث شـوی چې دا بـورد تر اوسـه جوړ نه شـي.

همدارنګـه، د سـولې عالـي شـورا د غـړو او د ښـارونو او کلو په کچه د ښـځو ترمنځ همغـږي شـتون نـه لـري او دا د دې باعـث شـوی چـې په مختلفو سـیمو کـې ډېري مېرمنـې د سـولې عالي شـورا په نـوم څه نـه پېژني.


## دوهمه برخه: په امنیتي ادارو کې د ښځو شتون


پـه امنیتـي ادارو کې د ښـځو د شـتون په اړه شـوې څېړنـې څرګندوي چـې د امنیتي ځواکونـو دوه پـه سـلو کـې ښـځې تشـکیلوي. د ۱۹۵۰۰۰ دفاعـي ځواکونـو لـه ډلې ۱۴۰۰ تنـه يـې ښـځې تشـکیلوي. پـه همـدې ترتیـب د ۱۵۰۰۰۰ پولیسـو لـه ډلې څخـه یواځـې ۳۳۲۶ تنـه يـې ښـځې دي. همدارنګـه د ملـي امنیـت پـه عمومـي ریاسـت کـې د ښـځو د شـمير پـه اړه رسـمي شـميرې نـه دي پـه ډاګه شـوي. خو د دفـاع او کورنیـو چـارو وزارتونـو د ښـځینه ځواکونـو پـه پرتله ښـکاره ده چـې په دې بنسـټ کـې بـه د ښـځو د شـتون سـلنه د ذکـر شـوو وزارتونو څخـه زیاته نـه وي.[۴]

پـه ګروپـي بحثونـو کـې د ګډونوالـو د نظریاتو په اسـاس، پـه امنیتي بنسـټونو کې د

4 .http//:www.awn-af.net/index.php/cms/press_detail986/12/

ښـځو د شـتون تـر ټولو لويـه انګيزه د هغـوی مالي اړتيـاوې تشـکيلوي او معمولاً په نـورو دولتـي بنسـټونو کـې د کاري فرصتونـو د نـه شـتون له کبلـه د خپل ژونـد د بقا لپـاره پـه امنيتـي ځواکونـو کې دندې ته زړه ښـه کـوي. همدارنګـه د هيـواد کلتوري حساسـيتونو تـه په کتو پـه امنيتي ځواکونـو کې د نارينـه وو په پرتله د ښـځو ګومارنه پـه ټيټه سـطحه کې ده.




د ذکـر شـوو لاملونـو تـر څنـګ، پـه امنيتـي بنسـټونو کې د ښـځو د شـتون پـه اړه د موجـوده ګواښــونو پــه ډول لانــدې مــوارد او لاملونــه پيژنــدل شــوي دي.

## الف) د ښځو لپاره د اړينو امکاناتو او فرصتونو نه شتون

د ښـځو لپـاره د امکاناتو او فرصتونو نه شـتون د دې سـبب شـوی دی چـې په امنيتي بنسـټونو کې د هغوی په شـتون او شـمير بانـدې منفي اغيزه وکړي. پـه دې ځرګندونه کـې د ګروپـي او ډلـه ايزو بحثونو څخه د ښـځو د نظريې د لاسـته راوړلو په اسـاس، ښـځې پـه ډيـری برخو کـې ځينـو امکاناتو او اسـانتياوو لکـه د کاليو بدلولـو خونې، جـلا تشـنابونه، ورکتـون او خونـدي ترانسـپورت ته لاسرسـی نـه لري چـې د امنيتي

بنسټونو د کارکوونکو لپاره د کاري فرصتونو د ویشلو او توزیع په برخه کې، د ښځو په نسبت تبعیض وجود لري. همدارنګه د مسلکي نظره ښځې تر اوسه هم په امنیتي برخه کې په مسلکي دندو نه ګمارل کیږي او زیاتره یې د نورو حاشیه یي کارونو لپاره کارول کیږي.

### دوهم) جنسي ځورونه


د جنسي زور زیاتي په اړه یو شمیر راپورونه، په ځانګړي ډول په امنیتي او دفاعي بنسټونو کې د ښځو په وړاندې جنسي ځورونه وجودلري چې د دې موضوع شتون په امنیتي او دفاعي بنسټونو کې د ښځو یو له جدي اندیښنو څخه شمیرل کیږي. د دې ګواښ شتون په یو شمیر امنیتي بنسټونو کې د کورنیو او میرمنو د بې باورۍ لامل شوی دی.

همدا شان ښځې باید د ډیرو کلونو لپاره د خپلې ترفیع د منظور کیدو په خاطر انتظار وباسي، په همدې سبب دامنیتي بنسټونو په لوړو پوستونو کې د ښځو شمیر ډیر کم دی.

## دریمه برخه: د ښځو سیاسي ګډون

له هغه ځایه چې د ښځو سیاسي ګډون او ونډه د افغانستان په اساسي قانون کې تضمین شوي دي؛ په پارلماني او د ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې د ښځو لپاره ځانګړې ونډې په نظر کې نیول شوي دی او په کابینه او نورو لوړو دولتي پوستونو کې د ښځو د ونډې په اړه دافغانستان د حکومت د ملي او نړیوالو ژمنو په اساس، میرمنې په دې پوستونو کې شتون لري؛ مګر د دې څرګندونې موندنې دا ښیي چې دا ګډون موثر او د قناعت وړ نه دی.

5




**اول) پـه ملـي او نړیوالـو موضوعاتـو کې د ښـځو شـتون ته ارزښـت نه ورکـول:** د ګروپي او دلـه ایـزو بحثونـو پایلـې دا څرګنـدوي چې په لویـو برخو کې تصمیـم نیولو چارو او د ملـي وحـدت حکومـت د رهبـري پـه اړه د ښـځو سیاسـي ګـډون نـه یواځې دا چـې زیاتوالـی نـه دی موندلـی؛ بلکـه پـه تدریجـي ډول کـم رنګـه شـوی دی. یـو شـمیر هغـه میرمنـې چـې د حکومـت د رهبرۍ پـه مختلفو لیکـو کې کار کـوي، په ملـي او نړیوالـو بحثونـو کـې د خپـل نه شـتون څخه اندیښـمنې دي.

**دوهم) د ملـي وحـدت د حکومـت پـه جوړولـو کـې د ښـځو د شـتون کموالی:** دحکومـت د رهبـرۍ پـه ځینو پوسـتونو لکـه وزیران او والیان چې ښـځو په کـې شـتون درلود، په دې وروسـتیو کې ښـځې د خپلو پوسـتونو څخه برکناره شـوې او دنـدې یـې سـړیو تـه ورکول شـوي دي.

د مرکـه شـوو ښـځو له آنـده، دا یو ټـکان ورکوونکـی کار دی؛ ځکه چـې دې چارې وار لـه مخـه د حکومـت د رهبـرۍ پـه رآس کـې د ښـځو شـتون کـم کـړی دی. د مثـال پـه توګـه، د ولسـي جرګې لـه لـورې د دوه ښـځینه وزیرانو د صلـب صلاحیت

---

5 http://www.awn-af.net/index.php/cms/content/501

کولـو او د هغـوی پـه ځـای د ښـځينه نومانـد وزيرانو نـه معرفـي کيـدل، همدارنګه د دوه ښـځينه واليانـو لـرې کيـدل او پـه ځای يـې د دوه نارينـه واليانو ټـاکل کيدل د افغانسـتان د ښـځو د انديښـنې لامـل ګرځيدلي دي.

لـه بـل لوري پـه ولايتي شـوراګانو او د ولايتونو په نورو جوړښـتونو کې د ښـځو رول تـر اوسـه هـم روښـانه نـه دی. ميرمنـې پـه زياتـرو ولايتونو کـې د سـولې، امنيت او پراختيـا پـه اړه پـه هيـڅ يوه اړونـده پروسـه کې ونډه نـه لري.

**دريـم) د ښـځينه نوماندانـو او رايـه ورکوونکـو پـه وړانـدې امنيتي ګواښـونه:**
د ۲۰۱۸ کال د ولسـي جرګـې ټاکنـې د امنيتـي سـتونزو او انديښـنو لـه املـه؛ د ډېرو ګواښـونو سـره مـل دي. چـې دا چـاره د رای ورکوونکو، ټاکنـو ته د نومانـد او د ټاکنو د کاروونکـو پـه توګـه ښـځې د جدي ننګونو او ګواښـونو سـره مـخ کوي.

## پايله

سـوکالي، پـر مختـګ، د امنيـت تأميـن او همدارنګـه پـه هـره ټولنـه کې سـولې ته د رسـيدو لپـاره د ټولنـې د ټولو اوسـيدونکو فعال شـتون ته اړتيـا ده. له هغـه ځايه چې ښـځې د افغانسـتان نيمايـي نفـوس تشـکيلوي، د هغوی موثـر او تصميـم نيوونکی شـتون د سـولې پـه پروسـه، امنيتـي بنسـټونو او سياسـي برخـه کـې يـوه جـدي او حياتـي اړتيا ده.

پـه ملـي او نړيوالـو قوانينـو کـې د ښـځو او سـړيو برابـر مقـام او همدارنګـه پـه يادو شـوو برخـو کـې د ښـځو د فعـال شـتون پـه اړه د افغانسـتان د حکومت ژمنـو ته په کتـو اړينـه ده چـې ښـځې پـه دې برخه کـې فعالـه او تصميـم نيوونکي ونـډه ولري او د هغـوی د شـتون او ګـډون څخـه عملـي ملاتـړ وشـي؛ مګـر لکه څنګـه چې د دې څرګنونـې موندنـې ښـيې چـې پـه دې بنسـټونو کې د ښـځو شـتون پـه ځانګړي

ډول د تصمیم نیولو په برخه کې اغیزناک نه دی او په ډېری برخو کې د هغوی د شتون په برخه کې ډیرې ستونزې او ګواښونه وجود لري چې دې چارې خپله د ښځو د ګډون سطحه محدوده کړې او په دې لاره کې یې موانع او ستونزې رامنځ ته کړي دي.

په همدې سبب اړتیا ده ترڅو حکومت او نړیوال بنسټونه د ښځو د سیاسي بیان او څرګندونې غوښتنو ته پاملرنه او زیات کار ترسره کړي او دې ستونزي په حلولو کې د افغانستان د خلکو لپاره د خپلو ژمنو مطابق، په ځانګړي ډول د ښځو په برخه کې جدي اقدامات ترسره کړي.

## وړاندیزونه

د سولې، امنیت او سیاسي ګډون په برخه کې د افغانستان د ښځو سیاسي بیان او څرګندونه د ملي وحدت حکومت او نړیوالو بنسټونو ته لاندې وړاندیزونه وړاندې کوي.

## ۱- ملي یووالي حکومت ته وړاندیزونه

### الف) د سولې په پروسه کې د ښځو ګډون

• حکومت باید د ۱۳۲۵ نمبر پریکړه لیک د تطبیق لپاره د ملي عمل د پلان په اساس، د سولې په پروسه کې د ښځو د فعال شتون او ګډون څخه، په ځانګړي ډول د سولې په عالي شورا او د سولې په ولایتي کمیټو کې اجرأت وکړي او د سولې د پروسې په رهبرۍ کې د ښځو د فعال رول د زیاتیدو او د نوښتونو او ابتکاراتو داسانولو او برابرولو په برخه کې ښځو او د ښځو د حقوقو فعالو بنسټونو ته اطمینان ورکړي.

• د سولې د عالي شورا ښځینه غړې او د دې شورا څخه بهر د سولې د ټینګښت په برخه کې په کار پوه ښځې، باید د مذاکراتو، بحثونو، منځګړیتوبونو او د افغانستان د سولې د پروسې اړوند خبرو اترو کې شاملې کړای شي.

• د منځګړیتوبونو، خبرو اترو، شخړو د تحلیل، مذاکراتو او نورو برخو اړوند دې د سولې د عالي شورا د ښځینه غړو د ظرفیتونو د لوړولو په موخه تخنیکي او تخصصي مرستې او همکارۍ طرح او عملي شي.

• د ملي وحدت حکومت باید د سولې عالي شورا سره په همکارۍ د دې شورا د ستراتیژۍ مطابق او هغه ژمنې چې ښځو ته یې دلاربنود د نشر په وخت کې د ښځو او مدني ټولنو سره کړې وې، یو مشورتې بورډ جوړ کړي.

• ښځې اندیښمنې دي چې د سخت دریځو او د ښځو د حقونو مخالفو ډلو سره د سولې د خبرو اترو او مذاکراتو په جریان کې د دوی د یوې نیمې لسیزې لاسته راوړنې قرباني کیږي، په همدې اساس، دا وړاندیز کیږي چې د طالبانو او نورو سخت دریځو ډلو سره د حکومت د سولې په خبرو اترو کې فعال او تصمیم نیوونکی شتون ولري.

## ب)په امنيتي بنسټونو کې د ښځو د شتون زیاتوالی

• حکومت باید د غیر دولتي بنسټونو د استازو سره د معلوماتو د شریکولو او د امنیتي ځواکونو په جوړښت کې د ښځو لپاره د تخنیکي مرستو د چمتو کولو په موخه یو مشورتي میکانیزم جوړ کړي.

• دفاع او کورنیو چارو وزارتونه باید د پولیسو، پوځ او امنیت په برخه کې د ملي عمل پروګرام د ۱۳۲۵ پریکړه لیک د مکلفیتونو مطابق د ښځو د ظرفیتونو د لوړولو په موخه د ظرفیت لوړولو پراخه پروګرامونه په لاره واچوي.

• حکومت باید په پولیسو او پوځ کې د ښځو د ګوارنې په موخه، کورنیو ته د انګیزه ورکولو میکانیزم په نظر کې ونیسي. دا میکانیزم کیدای شي د انګیزې د رامنځ ته کولو، پوهاوي ورکولو، د سړیو سره د ښځو د دندو د وی ډول او مساوي ګټلو، مالي مرستو او نورو مرستو څخه جوړ وي.

## ج)د ښځو سیاسي ګډون

• ښځې باید د خپلو ظرفیتونو په اساس د مهمو دولتي پوستونو د ورکولو لپاره په مرکز او ولایتونو کې مشخصې او وګومارل شي. پر دې سربیره، د وزیرانو، والیانو او ولسوالانو د دفترونو په کچه په جنسیتي موضوعاتو باندې متمرکزه موضوعاتو د پروګرامونو د جوړولو له لارې دې په تصمیم نیونه او رهبرۍ کې د ښځو د رول څخه څارنه او ملاتړ وشي.

• د هغـه ښـځو د ملاتـړ پروګـرام چـې د ولسـي جرګـې او ولسـوالۍ شـوراګانو د راتلونکـو ټاکنـو لپـاره نومانـدې دي، باید تر لاس لاندې ونیول شـي. پـه دې پروګرام کـې بایـد مدنـي زده کـړې، د امنیت تأمیـن او همدا شـان د ښـخینه نوماندانـو لپاره د کمپایـن دزمینـې برابـرول او همدارنګـه پـه ټاکنـو کې د ښـځو د پر رنګـه ګډون په موخـه د ښـځو هڅونه شـامل وي.

• د حکومـت پـه رهبـرۍ او د ولایتونـو پـه کچـه د تصمیـم نیولـو پـه برخـه کـې د ښـځو د شـتون زیاتوالـی. مدني ټولنه او نور سـازمانونه پـه دې برخه کې په شـرایطو وړ ځیـرو د معرفـي کولـو لپـاره د حکومت سـره د مرسـتې کولـو لپـاره چمتو دي.

## ۲- نړیوالو بنسټونو ته وړاندیزونه

**الـف)** لـه نړیوالـو بنسـټونو څخـه هیلـه کیـږي چـې د سـولې پـه پروسـه، امنیت او سیاسـي ګـډون کـې د ښـځو د فعالـې ونـډې د زیاتولـو پـه شـرط د ملـي وحدت د حکومـت سـره مالـي او تخنیکـي مرسـتې وکـړي.

**ب)** هغـه بنسـټونه چـې پـه مسـتقیم ډول د افغانسـتان د امنیتـي سـکتورونو سـره د ښـځو د ونـډې پـه زیاتولـو کـې د مرسـتې په شـمول پـه دې برخـه کې دخیـل دي، بایـد د غیـر دولتـي بنسـټونو او مدني ټولنې سـره د دې همکاریو د اجـرا د څرنګوالي پـه برخـه کـې مشـوره وکـړي او دوی پـه دې پروګـرام کې شـامل کړي.

**ج)** لـه نړیوالـې ټولنـې څخـه غوښـتنه کیـږي چـې د جنسـیتي مسـاوات د تطبیق د نظـارت د پروګرامونـو د څارنـې پـه برخـه کـې د مدنـي ټولنـې د څارونکـي د رول څخـه، پـه ځانګـړي ډول د ۱۳۲۵ پریکـړه لیـک د تطبیـق لپـاره د عمـل پروګـرام، د سـولې عالي شـورا تګ لاره، د افغانسـتان د ښـځو د عمل او کار پروګرام او نور مهم اسـنادد حسـاب ورکولـو او بریالیتوبونـو د څیړلـو لپـاره او همدارنګـه په دې پروسـو کـې د روښتیـا او شـفافیت د رامنـځ تـه کولـو څخـه ملاتـړ وکړي.

«سـوکالي، پـر مختګ، د امنیـت تأمیـن او همدارنګه په هره ټولنه کې سـولې تـه د رسـیدو لپـاره د ټولنې د ټولو اوسـیدونکو فعال شـتون ته اړتیـا ده. له هغه ځایـه چـې ښـځې د افغانسـتان نیمايي نفـوس تشـکیلوي، د هغـوی موثر او تصمیم نیوونکی شـتون د سـولې په پروسـه، امنیتي بنسـټونو او سیاسـي برخه کـې یوه جـدي او حیاتـي اړتیا ده»

WCLRF
Women and Children Legal Research Foundation
بنیاد تحقیقاتی حقوق زنان و اطفال
1381 2002

HEINRICH BÖLL STIFTUNG
AFGHANISTAN